# د اے این پي د مرکزي جنرل سکتر

# میاافتخارحسین پیغام

د یو پوښتون شاعر په قول.

ما کاتهٔ ستا بلند قد ته ګل بدنه
د دستار په ځائې مې سر پریوت له تنه

په ګفتار او کردار دغه دواړه قدآور شخصیتونه ستر فخرِافغان باچاخان او ستر رهبر تحریک خان عبدالولي خان چې مونږ اوس کال په کال یادوؤ. د هغوي په یو پېړۍ خور نه ستړي کېدونکې جدوجهد ته ګورو او دې ته ګورو چې په دې دومره اوږده زمانه کښې د



هغوي نه داسې کوتاهي نه ده شوې چې د پښتنو په کومه مسئله به ئې د اظهار جرت نه وي کړے. نو زمونږ غړې لا هسکې شي او یقیناً مو دغو هستیو ته د دستار په ځائې سرونه د تنه پریوزي.

مونږ ویاړو چې مونږ ډېرې کامیابۍ حاصلې کړي. او که څهٔ را ته پاتې دي نو د هغې دپاره زمونږ جدوجهد روان دے او د حصول تر حده به روان وي.

دا زمونږ د خپلو دغو مشرانو سره لوظ دے. مونږ ته فخر دے چې که دغو دواړو رهبرانو په ژوند زمونږ راهنمائي کړې ده نو د مرګ نه پس هم د هغوي ګفتار او کردار زمونږ راهنمایان دي. او تل به مو راهنمایان وي. مونږ به د هر قدم اخستو دپاره د هغوي د روحونو نه راهنمائي اخلو. تل دې وي پښتو او پښتونولي او تل دې وي د دغو دواړو د افکارو نه مړې کېدونکې رڼاګانې.

په مینه او مننه